SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال پنځوسمه گڼه پرله پسي (۳۳۷) سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ربیع الثانی (۱۷)
د۱۳۷۹هـ ش کال د چنگاښ دمیاشتی(۲۸) د ۲۰۰۰ میلادي کال د جولای (۱۸)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نژدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د ملاریا او پرازیتولوژی په انستیتوت کی :

په لشمانیا ۱۱۶۷ او په ملاریا ۱۲۲۱ تنه اخته کسان معالجه شویدی

کابل - باختر :

د روان کال په دریو میاشتو کی د لشمانیا ټولی یوزرو یو سلو اووه شپېته پېښی او د ملاریا یوزرو دوه سوه یوویشت پېښی تر علاج او درملنی لاندی نیول شویدی.

د ملاریا او پرازیتولوژی انستیتوت د روان هجری قمری کال په لومړیو دریو میاشتو کی د بیړنیو او ضروری تدبیرونو په نیولو سره د ملاریا د وژونکی ناروغی د وقایی او تداوی په کار کی چی د دیرو خطرناکو ناروغیو له جملی څخه شمیرل کیږی د کابل ښار په روغتیایی مرکزونو او روغتونونو کی د یوه عمومی لابراتوار او د یو شمیر فرعی لابراتوارونو له لاری د اووه زره دوه سوه پنځه دېرشو تنو د وینو د سلایدونو له اخیستلو وروسته د ملاریا په ناروغی یوزرو دوه سوه یوویشت تنه اخته کسان په ورپیا ډول تر علاج او درملنی لاندی نیولی دی.

دغه راز د لشمانیا د جلدی پېښو د درملنی په برخه کی چی د کابل ښار په ټولو ناحیو کی لیدل شویدی، بیړنی او ضروری اقدامونه تر سره شویدی

٤ مخ

د ملکی هوایی چلند او توریزم وزیر محترم ملا اختر محمد منصور له «شریعت» سره په مرکه کی :

د افغانستان له فضا څخه ۸۵ عبوری الوتنی

په هرو ۲۴ ساعتو کی

سرته رسیږي

د افغانستان له فضا څخه به عبوری پروازونه نور هم زیات شی

لاهور او کراچی سره به د یر ژر مخابروی اړیکی تأمین شی

د هوایی چلند وزارت او IATA تر منځ یو قرار داد لاسلیک شوی چی اوس یی په عملی کیدو باندی کار روان دی

شریعت : قدرمنو لوستونکو! زموږ خبریال د ملکی هوایی چلند او توریزم له وزیر محترم ملا اختر محمد منصور سره دده د کار په دفتر کی د ملکی هوایی چلند د اوسنی حالت د څرنګوالی او راتلونکو پروگرامونو په هکله یوه اوږده مرکه کړی چی ریوت ته یی ستاسو پام را گرځوو :

پوښتنه : ملاختر محمد منصور داسی ووېل : همدا اوس د هیواد په سطحه د ملکی هوایی چلند او توریزم ۲ بین المللی هوایی دگرونه او ۱۲ تور ملکی هوایی دگرونه فعال او په مجموع کی ۸ ملکی الوتکی شپه او ورځ زمونږ د وطنوالو په خدمت کی دی.

دی زیاتوی : د افغانستان د اسلامی امارت د مقاماتو د منظوری له اخستلو وروسته د ملکی هوایی چلند او توریزم د وزارت او د هوایی ترانسپورت د نړیوالی اتحادیی IATA تر منځ په ۱۹۹۸ عیسوی کال کی یو قرار داد لاسلیک شوی وه، په دغه قرار داد کی د شاملو پروژو عملی چاری د هوایی ترانسپورت د نړیوالی اتحادیی IATA یوی جرمنی کمپنی او د یری

٤ مخ

از اثر خشکسالي در کشور :

٦٥٪ چاه ها و ۷۵٪ کاریز ها خشك گردیده است

کابل - باختر :

از اثر خشکسالي موجود در کشور شصت و پنج فیصد چاه هاي عادي و برمه یی و هفتاد و پنج فیصد کاریز ها خشك گردیده است.

مردم افغانستان از اثر خشکسالي موجود که هفتاد و پنج فیصد ساحات کشور را در بر گرفته است زیاد متضرر گردیده و محترم ملا الله داد شهید وزیر رئیس عمومي احیا و انکشاف دهات طي مصاحبه با خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گفت : ساکنین دهات و قصبات کشور ، ساکنین شهر ها از ناحیه خشکسالي زیاد متضرر گردیده و ص ٤

محترم قاضي القضات ا.ا.ا :

مسؤولین محابس با محبوسین از برخورد انساني کار بگیرند

دیروز شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد ثاقب قاضي القضات و رئیس ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان در مقر ستره محکمه دایر گردید ابتدا آیات چند از الله مجید قرائت گردید، بعدا ص ٤

په کابل کی :

د پاکستان د قنسل د کور په انگړ کی چاودنه وشوه

کابل - باختر :

د افغانستان د خلکو او د اسلامی امارت دښمنانو په کابل کی د پاکستان اسلامی جمهوریت د قنسل د کور په انگړ کی په چاودنی باندی په لاس پوری کولو سره یو ځل بیا خپل ورانکار او تروریستی ص ٤

مقدار ۵۰۰ بوتل مشروب قاچاق از دواخانه هاي شهر بدست آمد

شریعت : در نتیجه کنترول و بررسي که طي هفته اخیر توسط مسؤولین ریاست قوانین و بررسي وزارت صحت عامه صورت گرفت مقدار ۵۰۰ بوتل مشروب قاچاق از دواخانه هاي شهر کابل بدست ص ٤

در ولایت پکتیا :

یك باب دارالحفاظ افتتاح گردید

گردیز - باختر : یك باب دارالحفاظ دیروز در شهر گردیز ولایت پکتیا طی مراسمي افتتاح گردید.

در مراسمي که بدین مناسبت ترتیب یافته بود محترم مولوي نجم الدین ص ٤

ازمایش یك راکت میان برد باستیك ایران باعث نگراني اسرائیل گردیده است

آزمایش یك راکت میان برد باستیك ایران باعث نگراني رژیم غاصب اسرائیل شده و آنرا نه تنها تهدیدي علیه اسرائیل بلکه تهدید علیه تمام شرقمیانه خوانده است.

برد این راکت که شهاب ۳ نام گذاري شده است یکهزار و سه صد کیلو متر بوده که به گفته اسرائیل میتواند اغلب کشور هاي منطقه شرقمیانه و اسرائیل را هدف قرار دهد.

لوي درستیز اردوي رژیم غاصب اسرائیل در رادیوي آن رژیم گفت ص ٤

در ولایت بغلان :

دو حوض ذخیره آب آشامیدني افتتاح گردید

کابل - باختر :

دو حوض ذخیره آب آشامیدني دیروز در مربوطات قرایي گداي خیل، سرخکوتل، تره خیل، دند غوري ولایت بغلان ص ٤

در ولایت لغمان بشمول ادارات امارتي :

۲۵۰۰ فامیل از نور برق مستفید گردیدند

کابل - باختر :

ادارات امارتي مرکز ولایت لغمان و دو هزار و پنجصد خانواده از نور برق مستفید گردیدند

٤ مخ

در شفاخانه، صحت طفل اندراگاندي از مدت شش ماه بدینسو :

معاینات تلویزیوني بطور رایگان صورت میگیرد

این شفاخانه ظرفیت ۳۰۰ بستر را دارا میباشد

شریعت : خوانندگان عزیز !

شفاخانه صحت طفل اندراگاندي یکي از شفاخانه هاي مهم، فعال و کامپلکس اطفال در شهر کابل بشمار میرود. این شفاخانه داراي بخش هاي فعال جراحي، گوش و گلو ، فیزیوتراپي، اورتوپیدي، داخله، اکسریز، لابراتوار، شعبه، دندان، شعبه، واکسین، و دواخانه بوده که بخش داخله این شفاخانه شامل وارد هاي ساري، داخله عمومي اول، دوم، سرویس نوزاد با ترسري، وارد قي و اسهال و وارد سوتغذي مي باشد.

باید گفت که در این شفاخانه از مدت شش ماه باینطرف ماشین التراساوند با معاینات تلویزیوني به فعالیت هاي خویش آغازز نموده که بوسیله ان تداوي مریضان بطور مجاني صورت میگیرد. ص ۲

په عراق کی :

ملگرو ملتو خپل بشری فعالیتونه وځنډول

په عراق کی د خوراکی موادو په بدل کی د تیلو د پلورلو لپاره د ملگرو ملتو د سازمان پروگرام خپل فعالیتونه ځنډولی دی.

په بغداد کی د ملگرو ملتو د ٤ مخ

نمایی از هوتل زیباي باغ بالا که به اهتمام ریاست تصدي هوتل ها مجدداً باز سازي گردیده است . **عکاسي :یوسف**

په چین کی :

یو کلی په بشپړه توگه تر خاورو لاندی شو

د چین په مرکزی ولایت شانگ یی کی د خټو او خاورو د راتویدلو له امله یو کلی په بشپړه توگه تر خاورو لاندی شوی او د هغه کلی یو سلو نولس تنه او سیدونکی وژل

٤ مخ

د هند په شمال کی د الوتکی د راغورځیدو له امله ٦۰ تنه ووژل شول

د هندوستان په شمال ختیځ کی پرون د یوی مسافر وړونکی الوتکی د راغورځیدو له امله شل نا څه شپیته تنه ووژل شول.

دغه الوتکه بوئینگ ۷۲۷ ډوله وه او د پاټنا ښار په هوایی ډگر کی د ٤ مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

اسلامی نړی او د «القدس» په سر نوی سودا!!

دمسلمانانو د لومړنی قبلی «الاقصی» په سر د ډیرو غازیانو وینی تویی شوی او په وار وار د بیلا بیلو کفری طاقتونو له خوا پري یرغلونه شوي ، خو زمونږ د زمانی وروستی یرغل هماغه د یهودو د ۱۹٤۸ م کال پیښه ده چی د فلسطین او بیت المقدس په خاوره کی یو یهودی دولت را منځ ته شو او ددی لوی سپیڅلی جومات عملی اختیارات د مسلمانانو له لاسه ووتل د فلسطین مسلمان ملت له هماغی ورځی د غاصبو صهیونیستانو پر خلاف په جهاد او مبارزه لاس پوری کړ او تر ننه یی په زرگونو تنه په دی ارمان کی په شهادت ورسیدل خو د صلیبیانو

۲ مخ

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

[redacted] «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوي گڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات : ٦۲۸۵۹

جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

او یهودیانو د گډو پر له پسې هڅو او دول دول دسیسو په نتیجه کی د فلسطینی مجاهدینو د منحرف کولو پروگرام ورو ورو بریالی او بالاخره د یاسر عرفات په شان شخصیتونه د کفارو په شیطانی لومو کی راگیر او د هغوی له خوښی سره سم یې نڅیدل پیل کړل چی د همدغو هلو ځلو بوه نتیجه د یهودو او یاسر عرفات تر منځ د ۱۹۸۸ م کال د سولی لوزنامی په شکل را څرگنده شوه او له هماغی ورځی را په دی خوا نور نو د اقصی د ژغورلو لپاره مسلح جهاد تروریزم اعلان شو. که څه هم د همدغی سولی سره جوخت یوی ډلی مجاهدینو د «حماس» غورځنگ په نامه د پخوا په شان خپله وسله واله مبارزه جاري وساتله، مگر د تېروالَّ دباو له کبله یې چندان لوی بری لاس ته را نه وړ د سولی ددی لوزنامی له مخی د یاسر عرفات اداری ته د دوو محدودو، غزي او اریحا ښیمو فلسطینی څه کورواکی ورکړل شوه چي هغه په هیڅ ډول د ښشپړی ازادی او خپلواکی په معنی نه ده خو غاصبو یهودو پکی دا لاس ته راوړنه درلوده چی خپل رژیم ته یی قانونیت ورکړ او یاسر عرفات هم پری رسماً معترف شو، د یهودو او فلسطینیانو بله لویه ستونزه د بیت المقدس د لرغونی ښار برخلیک ټاکل دي چی د بشپړی سولی په لاره کی لوی خنډ بلل کیږي په دغو وروستیو ورځو کی د امریکی د ولس مشر کلنټن په منځگړیتوب د ایهود بارک او عرفات تر منځ واشنگټن سره نږدی په مري لند کي یوه سر مشریزه غونډه پیل شوی ده او دواړه غاړی د خپلو اختلافاتو د غوڅولو لاری چاری لټوی تر اوسه پوری د ستونزی د حل لپاره یو وړاندیز دا دی چی ښایی «بیت المقدس» د دوي په اصطلاح د سولی او امنیت یو شریک ښار وگرځول شی چی نه یی یهودیان او نه یی مسلمانان د بشپړی واکمنی دعوی وکړی که څه هم دا یو ښکاره حقیقت دی چی ددی ښار اصلی واکداری به بیا هم د امریکی او یهودو په لاس کی وی خو دوی ته دا مهمه ده چی په قانونی ډول له فلسطینیانو څخه په اصطلاح وروستی قباله هم تر لاسه کړی او په نړیواله توگه ددی لانجی غوڅولو ته اسناد پیدا کړی دا چی امریکایی چارواکی ولی په دی هکله دومره جدی او گړندی گامونه اخلی او څه مقاصد یی پکی پټ دی، ښایی د هیلری کلنټن چی د امریکی سنا جرگی ته کاندیده ده، له دی څرگندونو راښکاره شی چی د خپل بریالیتوب په صورت کی یی یهودیانو ته د بیت المقدس د پوره ورسپارلو په هکله کړی وی او په دی کی هم هماغه د خپل بریالیتوب لپاره د یهودیانو خوشالول او د هغوی تایید او ملاتړ تر لاسه کول مطلب وي په منځنی ختیځ کی چی د تیلو پریمانه ذخیری موجودي دي د یو یهودی دولت تشکیل امریکایانو ته ډېر اهمیت لری ځکه چی له همدی لاری به دا ټولی منابع د دوی تر ولکی لاندي وی خو د قضیی بل جانب چی اسلامی نړی او په ځانگړی ډول عرب هیوادونه دی په رډو رڼو سترگو دا ټولی دسیسی او معاملی وینی او ځاري یی خو بیا به هم په دی هکله نه خپل تاریخی مسؤلیت ته متوجه کیږی او نه اوسنی سیاسی او اقتصادی ارزښتونه په پام کی نیسی، او دا هغه شیان دی چی له هر څه زیات دور څیرمه هیوادونو د ژوند ښستیونه تهدیدوی او دا چی تر کومه حده یی خپل دینی او ملی مسؤلیتونه شاته غورځولی او حاضر شوی چی د مسلمانانو د لومړي قبلی او تاریخی جومات په سر معامله او سودا وکړی، ښیخی له اټکله وتلی خبره ده. یا سر عرفات او ددغی شرمیدلی سولی عرب مرستیالان به هیڅکله هم له خپل تندی څخه د غه د بی ننگی تور داغ لری نه کړی او نه به راتلونکو پر گنو ته څه تاریخی ځواب ولری.

د افغانستان اسلامی امارت چی د گرد اسلامی امت یو والی یی ارمان او د مبارزی هدف دی د مسلمانانو د لومړي قبلی په سر پدی ډول معاملی او سودا خپله ژوره خواشینی څرگندوی او د ټولو اسلامي هیوادو له مشرانو څخه په کلکه غوښتنه کوی چی غاصب یهودی رژیم ته دی قانونیت حق نه ورکوی او نه دی څه معامله او راشه درشه ورسره کوی او باید ټول مسلمانان د فلسطیني ول ... د هغه ارمان په تر سره کولو کی مرسته وکړی چی د یو آزاد خپلواک هیواد په ډول یی بیت المقدس پایتخت او یهودی غاصبان تری وشړل شی. اسلامی امت باید د خپل دینی اخوت په زور د کفری نړی ټولی لاس وهنی او ناروا تیری بند او یو داسی قوت را منځ ته کړی چی همیشه خپل استقلال وساتی او سر لوړی ژوند وکړی.

د لویدیځ ثقافتي یرغل او د اسلامی دعوت غوښتنی

د اروپا د رنسانس دوری له پیله د لویدیځ نوی تهذیب او تمدن په ډېره چټکی وده کړی او وروسته له دی چی غربی نړی یی ټوله په یوه مفکوره او یوه ثقافت ورنگوله نو اسلامی او ختیځی نړی ته یی خپل جادوگر تبلیغاتی وسایل متوجه کړل او دا دی اوس وینو چی ختیځ ملتونه یی هم له ځانه پردی او د خپل کلتور او ثقافت مریان وگرځول د دی لړی لومړی پړاو خو د انگلیس، فرانسی، ایټالیی او نورو اروپایی هیوادونو په استعماری او جنگی هڅو شروع شو، خو په دی پسی اروپا ته د اسلامی هیوادونو د یو شمیر ځوانانو سفرونه او د هغه ځای په پوهنتونو نو کی درس او تعلیم په ډېره بیړه د مسلمانی ټولنی په منځ کی د غربی ثقافت خپریدنی او غځیدنی ته لاره هواره کړه او بیا په دریم پړاو کی د ملګرو ملتونو او نورو نړی والو ټولنو په جوړیدو سره مسلمانان نور هم د دوی په غیږ کی ورولویدل چی دا دی د څلورم پړاو په توگه د کمپیوټر، انټرنټ او مصنوعی سپوږمکیو په افسون مسلمانان په بشپړ ډول له ځانه پردی او د یو غلام ذهنیت او ناروا انگیرنو معتقد شول، نن سبا لویدیزوالو ټول ختیځ ملتونه خصوصاً اسلامی ټولنه په خپل فرهنگ اوثقافت، که هغه په سیاسی ډگر کی وی، که په دینی او ټولنیزو نظامونو کی په دی قانع کړی چی په واړه خوله د سیکولر نظامونو ملاتړ وکړی، خپل ټولنیز ښستونه په غربی سیستم جوړ کړی اقتصاد ټول په سودی نظام او سیاست په یوه داسی جمهوریت او دیموکراسی چی د دوی ستونزی کموی نه بلکی لا نوری یی زیاتوی، بنا کړی نو په نتیجه کی د لویدیز د سیکولر نظام په رواجیدو د مسلمانانو دین او مذهب له منځه ولاړ، کوم چی د وروړگلوی، او منظم کیدو اساسی ښسټ و د غربی ټولنیز دود دستور په راتلو فحشا او بی حیایی له چوکاټه ووتله او د کورنی نظام دړی وړی شو، چی دا هم د وگړو د راټولیدو یو بل عامل و او د غربی اقتصادی نظام په راتگ سره چی په سود ولاړ دی، ټول مسلمانان (تر خلیجی ملکونو پوری) د لویدیزو بانکونو چی یهودیان یی واکمن دي د سود د بار لاندی راغلل او د هغری په پورونو کی داسی ډوب شول چی اوس د خپل ځان په خرڅولو هم نه تری خلاصیږی د همدی نړی وال روان وضعیت په څیړلو سری ته دا پوښتنه پیدا کیږی چی ښه نو ولی ختیځ تمدن د لویدیز سیلاب په مقابل کی دومره سخته ماتی وخوړه، که هندوئیزم او بودائیزم ماتی خوری خو ښکاره ده چی سراسر د عقل او استدلال نه مخالف رواجونه پکی و او بشریت ته د یو سو کاله نظام په جوړولو کی پاتی راغلل خو خبره دا ده چی اسلامی تهذیب او تمدن خو یو مخ په حکمت، معقولیت، او د بشری خواخوږی او سوکالی په ښستونو ولاړ دی نو ولی اسلامی نړی په دی اندازه د لویدیز ثقافت په لومو کی را گیره او پرنگی کلتور ته یی سترگی خړی شوی، اسلامی تاریخ او ثقافت خو ډېر لرغونی، عملی او د نن سبا د غوښتنو ډېر ښه ځواب لرونکی دی، مگر مسلمانان په ډېره کمزوری د لویدیز دود دستور مقابله کوی، کیدای شی دا اودی ته ورته پوښتنی به د ډېرو اسلامی خواخوږو او دینی بلونکو په مغزو کی گرځی خوښایی د قناعت وړ دلیل په لټه کی به سرگردانه، متردد او په اشتباه کی پراته وی، خو په حقیقت کی ددی سوال ځواب ښایی دومره مغلق نه وی او د اسلام د ستر لارښود او نورو مشرانو په دعوتی تگلاره کی په آسانی سره وموندل شی او دا ځکه چی د دعوت په اصل او ماهیت کی خو هیڅ بدلون نه دی راغلی، مگر د دعوت او بلنی په طریقه او تگلاره کی ډېر تفاوت لیدل کیږی، راځی وگورو زمونږ د اسلامی بلونکو د تگلاری په کوم ځای کی دا نیمگړتیاوی دی چی د نوی نړی وال چلینج په مقابله کی یی کمزوری کړی یو او په خپل کور کی دننه هم څوک نه شو قانع کولای او لگیا دی را څخه یی لاری کیږی دلته په لنډو سره دا څو ټکی یادوو:

فاروق

۰۱ د معقولیت خیال نه ساتل: اسلام یو داسی دین دی چی هیڅکله هم د عقل، استدلال او تجربی سره څه ټکر نه لری، خو مونږ کله کله په داسی خبرو ټینگار کوو چی بیخی د عقل او مشاهدی نه خلاف وی، مثلاً زمونږ په ټولنه کی یو شمیر داسی دینی علما شته چی تر اوسه هم د فضا او فلکیاتو په هکله د نویو پرمختیاو او د انسان د لری لری چکر او ځیرنو څخه وچ انکار کوی او دا کار له دینی نصوصو څخه مخالف انگیری نو له دی کبله خلکو ته د یو بلونکی په خبرو کی ډېره خامی ښکاره شی او بالاخره یی په ټولو خبرو اعتماد له منځه ولاړ شی په دی هکله د حضرت پیغمبر «ص» نه یوه واقعه را نقل شوی چی د هجرت په مهال یی د مدینی منوری خلک د کجورو د ځانگو یو په بل وهلو نه ایسار کړل چی ښایی دا کار به څه گټه ونه لری خو کله چی په هغه کال ونو ښه میوه ونه نیوله او اصحابو عرض وکړ نو بیا رسول الله «ص» ورته وفرمایل چی کوم شی په دینی نصوصو پوری اړوند نه وی بلکی په انسانی تجربی پوری مربوط وی، تاسو کولای شی هماغو خپلو تجربو ته گټه واخلی او زه د هغی په خلاف تاسو ته څه ویل نه غواړم.

۲- د تشدد او سخت گیری طریقه یوه بله نیمگړتیا دا ده چی زمونږ بلونکی زیاتره وخت په وینا او عمل دواړو کی ډېر تشدد او سخت گیری کوی په بلنه کی نرم او پاسته الفاظ نه استعمالوی بلکی د خلکو په رټلو، شرمولو او غندلو ډېر زور اچوی چی په دی ډول دعوت په لومړی مرحله کی د بشپړی ناکامی سره مخامخ کیږی او له همدی ځایه د عام ولس محبت او اخلاص کمیږی او ددی په ځای چی خلک ورباندی راټول شی، نور هم تری تښتی او ترهیږی - دا کار ډېری منفی اغیزی لری او نن سبا نړیوال په دی ډول بلونکو د ارهابی او تروریست ټاپې لگوی.

په دی اړه باید ووایو کله چی لوی خدای«ج» موسی علیه السلام فرعون ته وراستاوه نو دا یادونه یی ورته وکړه چی په نرمی به خبره ورته کوی (النازعات)

او د پیغمبر «ص» نه په یو حدیث کی راغلی چی ویلی یی دی: ان الله یعطی بالرفق ما لا یعطی بالعنف - یعنی یی شکه الله یو چاته په نرمی سره هغه څه ورکوی چی په تشدد یی نه ورکوی په آخر کی دا یادونه هم ضروری گڼو چی د لویدیز کلتور او ثقافت د همدی یی ساری توپان په څپو کی بیا هم چی په کوم ځای کی په سم ډول دعوت شوی او معقوله تگلاره تعقیب شوی همدا اوس یی هم ډېری ښی نتیجی ورکوی او دا دی د سر په سترگو گورو چی د ډېرو یی دینو نظامونو د سخت ظلم زیاتی سره سره په اسلام قانع شوی میرمنی په خپل اسلامی ستر او حجاب څومره ټینگار کوی او د همدی جادو گرو تبلیغاتی وسایلو سره سره د مناسب او معقول دعوت په برکت څومره خلک لگیا دی مسلمانیږی او په کلکه د اسلامی احکامو پاپندی کوی.

معاینات تلویزیوني بطور ...

همچنان این شفاخانه که ظرفیت ۳۰۰ بستر را دارا میباشد، یك شفاخانه تربیتي بشمار میرود زیرا دوکتوران این شفاخانه تحت ترینگ دوره هاي مختلف قرار گرفته و تخصص حاصل میدارند در این شفاخانه هم اکنون ٤١ داکترو ١٤ نرس از طبقه ذکور و ۳۱ داکتر و ۳٤ نرس و ۱۵ متخصص از بخش اناث شب و روز در سرویس هاي جداگانه اناث و ذکور بطور رایگان در خدمت مریضان قرار دارند.

خبرنگار ما که از بخش اناث این شفاخانه باز دید نموده است جهت معلومات بیشتر مادران گرامي گزارشي را از کار کرد هاي شعبات مختلف آن تهیه دیده است که توجه شما عزیزان را بآن معطوف میداریم:

محترمه زبیده «صدیقي» متخصص ورزیده شعبه داخله و مسؤل بخش اناث شفاخانه صحت طفل در رابطه به پرسش خبرنگار ما گفتند: ابتدا مریضان به کلینیکي که در داخل تعمیر شفاخانه صحت طفل موقعیت دارد مراجعه میکنند. البته مریضان عادي بعد از معاینه و دریافت ادویه لازم دو باره مرخص میشوند، اما مریضاني که ایجاب بستر را مینمایند به شعبه، مربوطه این شفاخانه معرفي شده و به صورت عاجل داخل بستر میشوند باید گفت که همه روزه تقریباً ٤٠٠ تن مریض به این شفاخانه مراجعه مینماید نامبرده در مورد فعالیت هاي شعبات مختلف این شفاخانه چنین گفتند: فعالیت هاي شعبه، جراحي را عملیات هاي مختلف بطن و عملیات هاي کبیره و صغیره تشکیل میدهد در این شعبه ۸ تن متخصص جراحي شب و روز در خدمت مریضان قرار دارند. باید گفت که روزانه حدود ۱-۱۵ مریض غرض تداوي به این شعبه مراجعه مینمایند از آغاز سال جاري تا کنون ۳٦٠ عملیات دراین بخش به صورت موفقانه انجام پذیرفته است.

قابل یاد آوریست که شعبه فزیوتراپي این شفاخانه نیز از ساعت ۸ صبح الی یك بجه بعد از ظهر در خدمت نیازمندان قرار دارد در شعبه، اورتوپیدي ۸ داکتر مصروف کار میباشند دراین بخش تداوي آنعده مریضاني که دست یا پاي شان شکسته باشد و یا استخوان شان سیاه و یا بیجا شده باشد صورت مي پذیرد.

در شفاخانه، صحت طفل اندراگاني لابراتوار مجهز نیز فعالیت مینماید که در آن معاینات بیوشیمي، روتین، ملاریا، محرقه، زردي، کلچرك و ... صورت مي گیرد.

همچنان دراین شفاخانه دو دواخانه مجهز نیز موجود میباشد که یکي آن در داخل کلینیك و دومي در داخل شفاخانه موقعیت دارد براي مریضان سراپا از دواخانه کلینیك و براي مریضان داخل بستر از دواخانه شفاخانه ادویه توزیع میگردد.

نامبرده افزودند: شعبه سو تغذي در حدود ٦٠ بستر را دارا میباشد در این بخش اطفال ضعیف و نا توان یك ماهه الي ٥ ساله که به معیار هاي سو تغذي برابر باشند بستر شده هم تداوي غذایي و هم تحت مراقبت و تداوي دوایي قرار مي گیرند. اینگونه مریضان بعد از صحت یاب شدن تا شش ماه دیگر نیز تحت کنترول و مراقبت قرار میگیرند.

قابل یاد دهانیست که در شعبه گوش و گلو از اغاز سال جاري تا کنون ۹۵ عملیات صورت گرفته است.

وي مي افزاید: شفاخانه صحت طفل بر علاوه اینکه مورد توجه و کمك هاي وزارت صحت عامه امارت اسلامي قرار دارد توجه یك تعداد از موسسات خارجي را نیز به خود جلب نموده است که از جمله وارد سو تغذي را موسسه اکشن یا AIM، وارد اورتوپیدي را موسسه جرمني PORM و وارد داخله را موسسه حمایه اطفال کمك و اکمال مینماید.

نامبرده در اخیر اضافه کردند: خواهش ما از همه مادران گرامي اینست که در این اواخر امراض ساري که در اثر عدم توجه به نظافت بوجود میآید بیشتر شده لذا باید همه مادران نظافت شخصي و محیطي خانواده گي خویش را فوق العاده در نظر داشته باشند. تا از شیوع امراض ساري جلوگیري صورت گیرد.

سلطانه رحیم ابوبی

د مسلمان ادیب ټولنیز رسالت

محمد حسن فیروزخیل

لکه څرنګه چې پوهیږو، ژوند د پیښو د کشمکش هنګامه ده، کله چې مونږ په انساني فطرت نظر اچوو، د انساني فطرت په دننه کې تعمیري او تخریبي وسایل وینو، همدا شان د انساني تمدن او ټولنې همدا کیفیت دی، چې د خپل جوړښت وسایل هم لري، او دخپل ورانۍ هم، په تاریخ کې هم که چیرې د ډول ، ډول انساني پیښو، خوځښتونو او لوبو، لوبو هنګامو تجزیه او تحلیل وشي، نو څرګنده به شي چې یو لور تخریبي عوامل خپل کار کوي بل خوا تعمیري محرکات خپلې اغیزې څرګندوي، ګویا ګرد تاریخ په دوو تعمیري او تخریبي مورچلو ویشل شوی دی. زمونږ د ټولو علومو او فنونو بواځینی منشا داده چې راته د پیښو فهم راکړي او له تخریبي عواملو نه مو د بچ کیدو په لور وخوځوي، ورځنی عملي ژوند د یوه پراخه سمندر په توګه زمونږ تر مخ پرېوځي، ددې سمندر په غاړه که وګورو، نو پکې بې شمیره تخریبي او تعمیري عوامل ګرمې او سړې څپې په چلیدو، لویږدو یو تر بله په ټکر لیدل کیږي ، پدې سمندر کې رنګارنګ ګرداپونه جوړیږي، لوی، لوی توپانونه را پورته کیږي، او پخپل تل کې مرغلرې هم زیږوي ، کشتۍ ډوبوي او بیړۍ پخپلې سینې تیروي، موافقې او مخالفې هواګانې پکې چلیږي، د ژوند پدې سمندر کې مونږ کله له خوښۍ سره مخ یو، او کله هم د غم شیبې زغمو، د ټولنې دا چمن چې د خندا په ګلونو ښکلې دی، هلته د اوښکو تیره اغزې هم له ځان سره ساتي، مونږ هره لحظه د مختلفو، متضادو او بدلیدونکو احساساتو سره مخ یو.

د دا ډول بدلون موندونکو احساساتو او وارداتو سره چې هر وخت مونږ ټول مخامخ کیږو دا د یوه ادیب د فن پانګه هم وي، ادیب احساسات واردات، اغیزې، او کیفیات د ژوند له بې شمیره ذهني تجربونه د تیرېدو ښېړ تصور لاس ته راوړي، هغه د هنګامو نه یو نه یو هدف ټاکي ادیب د ټولنې د حالاتو انځور نه کوي، او د ټولنې د فرد، فرد ذهنیت جوړوي او د ټولنې ټولې ذهني نیمګړتیاوې پوره کوي، ادیب د ټولنې د ذهني تعمیر معمار او مهندس بللای شي په حاضر وخت کې چې نړیوال ښکیلاک په اسلامي نړۍ خپلې استعماري پنجې خښې کړي، او ټول اسلامي امت یې د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او تخنیکي مستعمرو په وجه له خپلو الهي عباداتو او حقه حقوقو محروم کړي او روحي تعذیب او شکنجې ورکوي، نو ادیب پدې نازکو شیبو کې باید خپل فن په صحیح طریقې وکاروي او د پردیو تر اثر لاندې رانشي هغه ادیب چې په ټولنه کې د متضادو عواملو کشمکش ښه پېژني او پرې پوهیږي، خو ترې اغماض او تیښته کوي، ځان د نهیلي ښکار کوي، او خپل هنر سرتاسري په غمیزې بدلوي، چې دا رنګه ادیب د خپلې ټولنې په وړاندې کومه تعمیري کارنامه سر ته نشي رسولای، مونږ نه وایو چې ادیب، ادیب نه وي، هغه د فن په فضاګانو کې لوړ ، لوړ تاج محلونه جوړوي، هغه داسې څه وړاندې کوي چې انسان په دهشت او حیرانتیا کې اچوي، نو کله چې ادیب دو مره مهم څوک دی نو دا هم ورته یادول غواړو چې د اجانبو او ښکیلاکګرو په وړاندې باید د خپلې اسلامي ټولنې ذهني تعمیر تل ژوندی وساتي، او بیا په خپل وار اسلامي نړۍ له یاده ونه باسي، او د خپل اسلامي ادب او فن په ور انتقالولو د هغوی ذهني تعمیر داسې جوړ کړي چې د راتلونکو نسلونو لپاره قدوه او نمونه و اوسي، داسې نه چې ادیب د بو چا لپاره خپل ادبي فن او استعدادونه په اور واړوي، او خپل ادبي رسالت خړ پړ کړي، ادیب چې د تیارو ډیوه دی نو پخپل اسلامي فن (ادب) باید د ټول اسلامي امت تیارې رڼا کړي.

وطنه ته مو کور یې ته مو مور یې

ته مو ژوند یې ، ته مو مور یې

د کوچنیوالې یې مسؤلیته شپې ورځې مو ستا په ارته غیږه کې په خاپوړو تیرې کړ ی.

ستا له خوږې آب و هوا څخه مو جسمانې نشو ونماکړې. د صورت هره حجره مو ستا د ښېګڼو ممنونه او د ژوند هره شیبه مو ستا د احساناتو مرهونه ده.

ګرانه وطنه!

ته سراسر ښکلا یې، مینه یې خندایې .

ستا تاریخې بلخ د نړۍ د ښارونو مور پیژندل شوی

لرغونې غزنې دی د ښارونو ښایسته ناوې او لوی کندهار دی د نړۍ د ښارونو ویاړ،

ښکلی کابل دی په زړه وړونکې زړه کې ډیرو تاریخي پیښو ته ځای ورکړی په څنډوکې یې اوس هم ډیر نازولې پراته دي.

عاشقان او عرفان یې د اسلامي مینې «عشق» او معرفت سمبولونه دي شهداء و صالحین یې د سرښندنې او صالحتوب رمزونه او د ښېتې پله مسجد یې د کفر او الحاد په ضد د نور او هدایت، توحید او سعادت روښانه سنګر دی.

خلاصه دا چې هره سیمه دې ښایست دی، هره دښته دې جنت دي

ښکلې وطنه!

تا د خپل ژوند په پړاوونو کې ډیرې ستونزې ګاللې، ډیرو میرڅمنو — دې تسخیرو لو ته زړونه ښه کړي، خو ټول همداسې — ترې نیمه خوا تللي.

که اسکندر دی که چنګیز، که تتار دی که انګریز او که شین سترګې شرمېدلې روس دې ټولو درباندې خپل زور ازمویلې، خو ستا ښکلیو درو، ستا اسمانڅکو غرو' او ستا طبیعي منظرو د هغوی ناولي قدمونه هیڅ نه دي منلي.

وياړلې وطنه!

تا په میړانه او شهامت کې د محمود غزنوي او احمد شاه ابدالي په څیر نومیالي روزلي، په علم او عرفان کې دې د ابو ریحان البیروني او ابن سینا بلخي په شان اشخاص لرلي.

په تصوف او روحانیت کې دې د سلطان الاولیاء محمد جلال الدین بلخي او حاتم بستي په مثل نموني ټولنې ته وړاندې کړي .

لنډه دا چې ته د علم، معرفت زانګویږ د وياړ او شجاعت ټاټوبی یې او د پوهې او روحانیت مقر.

ګله وطنه

نن چې دې د خپلو نا اهلو بچو له لوري په نړۍ کې مسخره ګرځیدلې یې، نن چې دې د ښکلا او ښایست بڼونه په تورو تنورونو بدل شوي او نن چې په نړۍ کې د افتونو، ابتلاګانو، مصیبتونو او تخلف مرکز ګرځیدلی یې خیر دی د زمانې ګردش په خپلو دورونو کې له ځانه سره هر څه لري. یوه ورځ به بیا هم درباندې راشي چې د نړۍ له مستکبرینو څخه به د خپل زور او قوت باج واخلې.

که خدای کول یوه ورځ به بیا هم درباندې راشي چې ستا په لمن کې روزل شوي بچیان به په نړۍ کې د علم او عرفان ښوونکي وګرځي او یوه ورځ به ضرور درباندې راشي چې ښایسته بڼونه، ښکلې درې او زړه وړونکې منظرې به دې د شام او کشمیر له منظرو سره په سیالۍ کې سبقت تر لاسه کړي دا به کیږي او انشاء الله حتمي به کیږي.

خو ستا تاریخ به د هر هغه چا چې ته یې ځوروللې یې چې ته یې نړولې یې او ته یې مسخره کړې یې ټولې ناروا وې په زړه کې لیکلې ساتي او د بازخواست په مهال به یوه یوه رابر سیره کوي.

چې بیا به د اسلامي عدالت د حاکمانو لخوا هغوی د خپلو ناروا وه انجام رسیږي، هغوی به د عدل په محکمه کې مجازات کیږي او بالاخره هغوی به ... توري کیږي.

ته به مظلوم پیژندل کیږې، ته محروم پیژندل کیږې او ته به له هر څه پاک، سوچه او بړې راویستل کیږې.

له عادل او احکم الحاکمین ذات څخه هر څومره زر د یوې داسې ورځې د راتلو په هیله .

آمین

د اصحابو د ژوند پلوشې

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا
ژباړن : بشار

۶

عبد الله بن حذافة السهمي

زمونږ ددې کیسې ځوان، د اصحابو څخه هغه سړی دی چې هغه عبدالله بن حذافة السهمي نومیږي.

د تاریخ د لاسه پوره و چې له دغه سړي څخه داسې تیر شي څنګه چې د هغه څخه پخوا له ملیونو ملیونو عربو څخه تیر شوي او د هغو پروایی نه د ... کړې، او یا هغو ورته څه پام نه دی کړی مګر لوی اسلام عبدالله بن حذافة السهمي ته داسې موقع ور په برخه کړې چې پخپل وخت کې د دنیا دوه مشران یعنې د فارسیانو پاچا کسری او د روم مشر قیصر ووینی، او بیا د دواړو سره داسې کیسه ولري چې زمانه لا تر اوسه د هغې خاطره وساتي، او د ... تاریخ ژبه د هغې حکایت وکړي .

هر څه چې د عبدالله کیسه د فارسیانو د پاچا کسری سره ده هغه داسې ده چې د هجرت ... شپږم کال کله چې حضرت پیغمبر «ص» وغوښتل چې دخپلو ملګرو څخه څه کسان د خپلو فرمانونو سره د عجمو پاچا یانو ته ولیږي، او هغوی ته د اسلام بلنه ورکړي نو دغه الهي پیغمبر «ص» ددغه لوی او مهم ماموریت په فکر کیږي، ځکه دغه نمایندګان داسې لرې هیوادونو ته سفر کوي چې د هغو په باب څه عهد او تړون نلري او هم دوی ددغو هیوادونو په ژبه نه پوهیږي او نه د هغو د پاچاهانو د مزاج سره څه آشنایي لري. بیا دغه نمایندګان دغه پاچایان د خپل دین ... خپل عزت او قدرت پریښودلو او د هغه قوم د دین قبلولو ته غواړي چې تر ترږدې پرونه دغه ... هغو له ځینو پیروانو څخه و .

شک نشته چې دغه یو ډیر هیبتناکه سفر دی چې تلونکي یې ورک کیدونکي، او بیرته ستنیدونکي یې نوې زیږیدونکي دي.

همدغه سبب و چې حضرت پیغمبر «ص» خپل ملګري راټول کړل، او د هغو په منځکې د خطیب په حیث ودرید، او د خدای د حمد او ثنا او د شهادت د کلمې له ویلو وروسته داسې یې وویل :

اما بعد. فاني ارید ان ابعث بعضکم الی ملوک الاعاجم فلا تختلفوا علی کما اختلف بنو اسرائیل علی عیسی بن مریم.

بیا وروسته له دې، زه غواړم چې ستاسې ځنې کسان د عجمو پاچایانو ته ولیږم نو پر ما اختلاف مکوئ څنګه چې بنو اسرائیلو پر عیسی بن مریم اختلاف کړی دی.

د رسول الله «ص» ملګرو وویل : ای د خدای رسوله! مونږ ستا اراده تر سره کوو نو هر چیرته چې غواړې مونږ ولیږه .

حضرت پیغمبر «ص» د خپلو ملګرو څخه شپږو تنو ته بلنه ورکړه څو هغوی د عربو او عجمو پاچاپانو ته د هغه فرمانونه ورسوي نو له شپږو تنو څخه یو تن عبدالله بن حذافة السهمي دی چې هغه د فارسیانو پاچا کسری ته د حضرت پیغمبر «ص» د فرمان د وړلو لپاره وټاکل شو

عبد الله بن حذافة السهمي خپل سورلې برابر کړ، او د خپلې ښځې او خپل زوی سره یې خدای پاماني وکړه، او د خپل ماموریت په لوري روان شو او د لارې په لوړو او ژورو چې یې له خدایه بل څوک ورسره نشته تیریږي، تر هغه چې د فارس هیواد ته ورسید او بیایې د پاچا حضور ته د ورتګ اجازه وغوښتله، او د دربار یانو ته یې د فرمان خبره وکړه .

په دغه وخت کې د کسری په امر د پاچاهي قصر ښکلې کړ شو او کسری د فارس لویان خپل حضور ته وبلل او ټول د دربار ته حاضر شول بیا یې عبدالله بن حذافة السهمي ته د ورننوتو اجازه ورکړه. عبدالله بن حذافة د فارس مشر ته په داسې حال کې ورغی چې له ځانه یې نازکه جامه پیچلې او د هغې د پاسه یې زیږه چپنه اغوستې وه، او د هغه حیثره د صحرایي اعرابو د ساده توب په حالت کې ښکاریدله، او هغه د لوی سر او قوي تنې خاوند و د هغه په وجود کې د اسلام قوت ربایي کوله او په زړه کې یې د ایمان لویې شغلې وهلې، څنګه چې په هغه با... د کسری سترګې ولګیدلې کسری د خپلو درباریانو یو تن ته اشاره وکړه څو د هغه د لاس څخه فرمان واخلي مګر هغه وویل : دا نشي کیدلای ځکه ما ته رسول الله «ص» امر کړی دی چې د ... پخپل لاس ستا په لاس کړم او زه د رسول الله له امر څخه مخالفت نکوم.

کسری خپلو سړیو ته وویل : هغه پریږدئ چې ما ته نږدې راشي، هغه ورنږدې شو او فرمان یې په لاس کې ورکړ. کسری د حیره د هیواد له خلکو څخه یو تن چې په عربي ژبه یې لیکل کاوه خپل حضور ته وغوښت، او ورته یې امر وکړ چې فرمان د هغه په مخ کې خلاص کړي او ورته یې ولولي، فرمان داسې و :

بسم الله ... من محمد رسول الله الی کسری عظیم فارس ، سلام علی من اتبع الهدی ...

کسری چې له فرمان څخه همدغه برخه واوریدله په سینه کې یې د غضب اور بل شو، مخ یې سور شو، او د غاړې رګونه یې وپړسیدل او دا په دې سبب چې رسول الله «ص» لومړی خپل ځان یاد کړی دی نو فرمان یې د کاتب د لاس څخه په ډیر قهر واخیست، او مخکې له دې نه چې ... هغه ځان وپوهوي هغه یې څیرې کړ، او په لوړ غږ یې وویل : ایا هغه دا راته لیکي حال دا چې هغه زما مریی دی ؟! کسری بیا امر وکړ چې عبدالله بن حذافة دې د هغه د دربار څخه وویستل شي همداغه و چې له دربار څخه یې وویستل شو .

پاتې لري

مسؤولین محابس با محبوسین از برخورد ...

محترم قاضي القضات و رئیس ستره محکمه روي موضوعات اجتماعي و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند که در بخشي از سخنان عالمانه، خویش فرمودند : هر شخص که در صدد اجرا کدام عمل یا پیشه میباشد از نگاه شرع . علم بر آن عمل و پیشه بالایش واجب و لازم میگردد. پس هر یك از منسوبین و کارکنان امارت اسلامي که از جانب امیر المومنین و یا دیگر مسؤولین برایش کدام مسولیت و وظیفه سپرده میشود لازم است که از همه اولتر بر آن علم اوري نموده و مسؤولیت ها و صلاحیت هاي خویش را کاملاً براي خود درك و معلوم نمایند. و هم در عمل باید اخلاص زیاد نیز داشته باشند تا کار هاي مردم که مربوط به ایشان است آنرا به آساني و نظم درست و به کمال صداقت و ایمانداريّ انجام داده باشند.

محترم قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا در رابطه به محاکم فرمودند : بعضي اوقات سخن تأخیر حل و فصل موضوعات در محاکم از این رو بالا میشود که عده از موضوعاتیکه قابل دوران در محاکم سه گانه نمیباشد دوران داده میشود مثلاً در صورتیکه جانبین به فیصله محکمه اولي قناعت نمایند و یا اینکه میعاد قانوني که براي مطالبه دوران موضوع در محکمه فوقاني تعیین گردیده ختم و منقضي شده باشد و در موضوعات مدني و حقوق عامه و موضوعات تجارتي در بعضي موارد دیگر نیز فیصله محکمه اولي قطعي و واجب التنفیذ میباشد. مثلاً در صورتیکه فیصله محکمه اول متکي به اقرار شرعي و یا ابرا و یا صلح و یا متکي به اسناد و وثایق مدار حکم باشد. در چنین صورت ها موضوع خاتمه میابد و براي دوران در محاکم فوقاني ضروتي پیدا نمیشود.

محترم قاضي القضات ا.ا.ا علاوه نمودند : مسؤولین محابس باید همیشه با محبوسین از وضع کاملاً انساني و شرعي کار بگیرند ، و هم وقتیکه میعاد قید محبوس تکمیل گردد باید وي براي یك لحظه هم در حبس نگاه داشته نشود و در صورتیکه مدت قید محبوس پوره نشده باشد، باید رها نگردد.

بناً اشخاصکیه از این مقررات شرعي تخلف میورزند و در محابس با محبوسین وضع نادرست مینمایند و یا آنان را زاید از میعاد قید در حبس نگاه میدارند و یا ایشان را بلا جواز به یك و دیگر بهانه رها میکنند، حتماً باید به پنجه عدالت سپرده و محاکمه شوند.

سپس روي پیشنهادات محکمه اختصاصي، کمیسیون تجدید نظر و ریاست امور ذاتیه ستره محکمه غور همه جانبه صورت گرفت. و همچنان روي درخواست هاي تبدیلي موضوعات در محاکم و دیگر مواد شامل اجندا بحث و بررسي دقیق بعمل آمد در بخشهاي مختلف تصامیم لازم اتخاذ و غرض تعمیل به مراجع و محاکم مربوط ابلاغ گردید.

د هند په شمال کې د الوتکي ...

راښکته کېدو په وخت کی ددغه ښار د استوګنی په سیمو باندی لګیدلی ده .

د وروستی رارسیدلی خبر له مخی ددغی الوتکی د ۵۸ تنو سپرلیو له جملی څخه هیڅ یو په دی پیښه کی ژوندی ندی پاتی شوی.

ګومان کیږی چی یو شمیر نور کسان هم د پاټنا په ښار کی د الوتکی د راغورځیدو په سیمه کی وژل شوی وی .

دغه الوتکه چی د الیانس ای د خصوصی هوایی چلند په شرکت پوری اړه درلوده د کلکتی له ښار څخه نوی ډیلی ته روانه وه او غوښتل یی د لاری په اوږدو کی د پټنا په ښار کی راښکته شی.

په نایجریا کی :

د تیلو د پایپ لاین د چاودنی له امله ۱۲ تنه ووژل شول

د نایجریا د تیلو د لیږدونی یو پایپ لاین بیا وچاودید چی له دی امله دولس تنه ووژل شول.

د نړدی تیری یوی میاشتی په اوږدو کی د نایجریا په جنوب کی د تیلو په پایپ لاین کی د چاودنی دا دریمه پیښه ده چی په نتیجه کی یی څه د پاسه زر تنه وژل شویدی.

د نړیوالو خبری منابعو د خبر له مخی د نایجریا د تیلو په پایپ لاینونو کی د چاودنی پیښی زیاتره د تیلو د غلو لخوا رامنځته کیږی چی غواړی له پایپ لاینونو څخه د تیلو په را ایستلو سره هغه په لوړه بیه په تور بازار کی وپلوری.

یوازی تیره اونی په نایجریا کی د ورته پیښی له امله څه د پاسه دوه سوه تنه ووژل شول.

مقدار ۵۰۰ بوتل مشروب ...

آمد.

این مطلب را محترم مولوي روح الله رحیمي مسوول ریاست قوانین و بررسي صحي وزارت صحت عامه به خبرنگار ما اظهار داشته افزود : مشروبات فوق الذکر بدون طي مراحل کوالتي کنترول ریاست امور فارمسي و تثبیت محصول گمرکي در دواخانه هاي شهر بفروش میرسید.

وي اضافه داشت : این مشروبات بعد از اتمام مراحل قانوني در محضر هیئت خاص وزارت صحت عامه حریق و عاملین قضیه تحت باز پرس جدي قرار میگیرند . سلسله بررسي دواخانه هاي شهر قویاً ادامه دارد.

په لشمانیا ۱۱۶۷ او ...

د روان کال د لومړی دریو میاشتو په بهیر کی د لشمانیا تولی یو زرو یو سلو اوه شپیته پیښی له تشخیص وروسته تر درملنی لاندی نیول شویدی.

د یو بل خبر له مخی د ملاریا او لشمانیا د پیښو د مخنیوی په خاطر د لشمانیا د هماهنګی د کمیټی غونډه پرون د ملاریا او ازیتولوژی د انستیتوت د رئیس محترم داکتر ملنګ مسلم امیری په مشری جوړ شو چی د هغه له امله به د لشمانیا د پروګرامونو د هماهنګولو په کار او د ځینو د لری کولو د پروګرام د ښه تطبیق او د ستونزو د څیړنی په باب هلی ځلی تر سره شی.

د ملاریا او پرازیتولوژی رئیس محترم داکتر امیری د باختر اطلاعاتی آژانس ته وویل د ۱٤۲۰ هجری قمری کال په ترڅ کی د هیواد په سطح ټول د څلور سوو دری شپیته زرو دوه دیرشو تنو ناروغانو دوینو سلایدونه په لابراتوار کی کتل شوی چی څه د پاسه د یو سلو دوه شپیته زرو پنځه سوه شپږ ویشت تنو په وجود کی د ملاریا پرازیت لیدل شوی او په وریا توګه تر درملنی لاندی نیول شویدی.

از اثر خشکسالي ...

علاوه از قلت آب براي زراعت شصت و پنج فیصد چاه هاي عادي برمه یي و هفتاد و پنج فیصد کاریز ها در ساحات مختلف کشور خشك گردیده و اهالي دهات، علاوه از مشکلات زراعتي و مالداري از ناحیه قلت اب آشامیدني نیز دچار مشکلات فراوان مي باشند.

محترم شهید ورور ابراز نگراني نمود که در صورتیکه کمکهاي عاجل و همه جانبه بشر دوستانه سازمانهاي بین المللي و بخصوص کشور هاي اسلامي و موسسات خیریه به موقع مناسب به هموطنان دهاتي ما نرسد امکان بیجا شدن و مهاجرت دسته جمعي آنها زیاد متصور بوده و در صورت عدم نجات زنده گي مردم دهات فاجعه بشري به بار خواهد آمد.

موصوف از موسسات خیریه و سازمانهاي بین المللي جداً تقاضا نمود که با درك مسوولیت بشري شان در قسمت تهیه مواد اولیه ارتزاقي خدمات صحي و حفر چاه هاي عمیق در دهات و قصبات کشور اقدامات عملي و موثر نمایند.

د پاکستان د قنسل ...

هویت بربند کړ .

پرون سهار د افغانستان د خلکو او د اسلامی امارت دښمنانو چی لاسونه یی تل زموږ د مجاهد ملت په وینو ککړ دی او له ورانکاری پرته بل کار نه لری په کابل کی د پاکستان د اسلامی جمهوریت د قنسل د کور په انګړ کی په یوی بلی چاودنی لاس پوری کړ چی له دی امله د سر زیان ندی رسیدلی او یوازی یو څه مالی تاوان رسیدلی دی .

د مخالفینو دغه ورانکار او تروریستی عمل چی د هغوی د بهرنیو بادارانو او ملاتړو په اشاره کیږی د هغوی د بادارانو له خوشحالولو او د هغوی د اسلامی ضد هویت له بربندولو او د اسلام له مبین دین او له اسلامی ارزښتونو سره د هغوی له نه پخلاینی پرته بله توجیه نلری د هغه څه پر خلاف چی د اسلامی امارت مخالفین یی تصور کوی د پاکستان له اسلامی جمهوریت سره د اسلامی امارت په دوستانه اړیکو او د دواړو ګاونډیو هیوادونو د مسلمانو خلکو په مناسباتو کی به هیڅ راز خلل او زیان پیدا نه کړی.

خبر زیاتوی عینی شاهدانو د اسلامی امارت د مخالفینو دغه عمل یو تروریستی او د ملی ګټو ضد عمل بللی دی او هغه یی په کلکه غندلی دی.

د خلکو او د اسلامی امارت دښمنانو څه موده مخکی هم په کابل کی د پاکستان د اسلامی جمهوریت په سفارت پوری په یوی اړوندی ودانی کی په دغه شان تروریستی او ورانکار عمل لاس پوری کړی و چی د خپل ځان او خپلو بهرنیو ملاتړو له رسوا کولو او بدنامولو پرته یی بله نتیجه تر لاسه نه کړه .

دوحوض ذخیره آب...

افتتاح و مورد بهره برداري قرار گرفت .

حوض هاي متذکره که هر کدام ظرفیت ذخیروي سه صد متر مکعب آب آشامیدني را دارا میباشند به منظور رفع مشکلات اهالي قرابی متذکره به کمك کمشنري سازمان ملل متحد مقیم آن ولایت اعمار گردیده است .

هنگام افتتاح حوض هاي متذکره محترم ملا عبدالرزاق نقشبندي معاون ولایت بغلان محترم محمد نبي مسوول کمشنري سازمان ملل متحد مقیم مزار شریف ، محترم عبدالقدیر تجرابي مسؤول کمشنري سازمان ملل متحد مقیم پلخمري موسفیدان و اهالي متدین قرابي متذکره حضور داشتند.

۲۵۰۰ فامیل از نور ...

شبکه برق جنراتوري ریاست اب و برق ولایت لغمان که از اثر حوادث ناگوار گذشته تخریب و از استفاده خارج گردیده بود بالاثر توجه مسؤولین امور با استفاده از بودجه امارت اسلامي دو باره احیا ، و دیروز طي محفلي به بهره برداري سپرده شد. با فعالیت مجدد جنراتور دیزلي و احیاي شبکه برق رساني متذکره علاوه از ادارات امارتي مرکز ولایت لغمان دو هزار و پنجصد فامیل نیز از نور برق مستفید گردیده است. در محفلیکه بهمین مناسبت تدویر یافته بود محترم مولوي محمد جان مخلص کفیل ولایت لغمان و محترم ملا عبدالرحمن رئیس آب و برق آنولایت در رابطه به احیا و باز سازي تاسیسات عام المنفعه صحبت نموده و موفقیت هاي مزید مسؤولین و منسوبین امارتي را در راه خدمت بوطن و مردم از خداوند بزرگ استدعا نمودند.

د ګهون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

یك باب دار الحفاظ ...

معاون ولایت پکتیا نقش و اهمیت ایجاد مدارس و دارالحفاظ ها را به منظور آموزش نسل جوان کشور در عرصه هاي مختلف علوم دیني ارزنده خوانده در مراسم افتتاح دارالحفاظ متذکره که با فعالیت آن براي عده از طالب العلمان شرایط فراگیري علوم قرآني طور نهاري مهیا میگردد.

محترم مولوي فضل الرحمن رئیس حج و اوقاف و تعدادي از مسؤولین امارتي آنولایت اشتراك نموده بودند.

آزمایش یك راکت ...

آزمایش راکت شهاب ۳ که در چار چوب تلاش هاي ایران براي دسترسي به تسلیحات غیر عادي انجام گرفته است براي تمام کشور هاي که در تیر رس این راکت قرار دارند معرف یك خطر میباشد.

یك مامور ارشد نظامي رژیم اسرائیل روز شنبه گذشته پیشبیني نمود که ایران تا سال ۲۰۰۵ میلادي از توانایي نظامي اتومي بر خوردار خواهد شد.

در همین حال مقامات وزارت دفاع ایران میگویند ایران قصد ندارد هیچ کشوري را با راکت تهدید نماید.

ملګرو ملتو خپل...

سازمان یو وینډوی دغه موقتی څنډونه د امنیتی ملحوظاتو په خاطر څرګنده کړیده .

وینډوی وویل هیڅ یوه ځانګړی پیښه دد غه تصمیم د نیولو سبب شوی نده .

ددغه خبر له مخی دری اونی مخکی یو عراقی وسله وال سړی په بغداد کی د ملګرو ملتو د سازمان د فتر ته ورغی او د عراق پر ضد ددغه سازمان له بندیز سره یی د مخالفت د څرګندولو په خاطر د دفتر کار کوونکی یرغمل کړل .

د پولیسو د مداخلی په نتیجه کی چی د دزو سبب شو د ملګرو ملتو د سازمان دوه تنه کار کوونکی ووژل شول.

یو کلي په بشپړه ...

شویدی.

د کلی نور اوسیدونکی تر اوسه پوری تری تم دی. د چین د حکومت په وینا دغه پیښه د تیری پنجشنبی په ورځ را منځته شوی خو د چارو سیمه ییزو مسؤلینو د پیښی په باب اوس خبر ورکړیدی.

دختو او خاورو راتوییدل په دغی ناحیه کی د څو ورځو اورښتونو په تعقیب رامنځته شویدی.

په هرو ۲٤ ساعتو کي

تاروبجنی کمپنی د انجنیرانو او افغانی فنی او مسلکی کدرونو او انجنیرانو له خوا د ۱٤۲۰ قمری کال د شعبان المعظم په میاشت کی په عملی توګه پیل شوی دی ددغی دستګاه اټکلی بیه دری ملیونو دالرو ته رسیږی او له یوی میاشتی را په دی خوا په امتحانی توګه فعالیت لری، البته او س څه نا څه مخابروی ستونزی شته چی زموږ د تکړه انجنیرانو له خوا په دیر ژر لری کیږای شی همدارنګه د ورته دستګاوو د نصب او منتاژ کار په لاهور او کراچی کی هم جریان لری چی فعلاً د هوایی ترانسپورت د نړیوالی اتحادیی موظف هیئت هلته تللی دی انشاءالله ددغی پروژی کار به په راتلونکو دوو میاشتو کی بشپړ او په رسمی توګه به په کار واچول شی.

نوموړی زیاته کړه : ددغی پروژی عمومی مرکز د کابل په نړیوال هوایی ډګر او نوری ارتباطی دستګاوی چی د کار چاری یی د مصنوعی سپوږمی له لاری سرته رسیږی د کندهار ، هرات، مزار شریف او جلال آباد په هوایی ډګرونو کی نصب او منتاژ شوی دی. همدارنګه مخابروی او تیلفونی ارتباطات به د مصنوعی سپوږمی له لاری له لاهور او کراچی سره هم په دیر نږدی وخت کی تامین شی دغه راز د ترکمنستان د هیواد د ملکی هوانوری له مسولینو سره د هم زموږ او د هوایی ترانسپورت د نړیوالی اتحادیی لخوا خبری اتری جریان لری تر څو هغوی هم د دی سیستم ته د کار کولو لپاره راوبلل شی.

محترم منصور د خپلو خبرو په ترڅ کی وویل : د دی پروژی په پلی کیدو سره به د هوایی چلند مخابروی او هوایی ترافیکی کنټرولی ستونزی د افغانستان د اسلامی امارت په فضایی قلمرو او د یو تعداد ګاونډیو هیوادونو له هوایی مرکزونو سره حل شی چی دا مسأله له سیاسی نظره هم زیات اهمیت لری او په عبوری پروازونو کی به لا نور زیاتوالی هم راشی. ددی پروژی په کار اچولو سره به د عبوری پروازونو په فیس کی هم څه نا څه زیات والی راشی.

په پای کی محترم ملا اختر محمد منصور زیاته کړه : فعلاً په ٢٤ ساعتو کی د افغانستان د اسلامی امارت له فضایی قلمرو څخه تقریباً له ۸۵ څخه زیات عبوری پروازونه سرته رسیږی چی له دا ډول هر پرواز نه موږ ٤٠٠ ډالره حق العبور اخلو موږ هیله لرو چی ددغی پروژی په بشپړیدو سره به د عبوری پروازونو په شمیر کی نور زیاتوالی هم راشی.

مهربان

SHARIAT WEEKLY

Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press